د سوات پښتو ادب او ثقافت

ډاکټر محمد علي ديناخيل

د سوات پښتو ادب او ثقافت

ډاکټر محمد علي ديناخيل

۱۳۹۹ هـ ش
2020 م

Pashto Literature & Culture of Swat

دَسوات قومی ترانه

کُل ثنا ربه ستا ده ⁕ کُل ثنا ربه ستا ده
ربنا دا دُعا ده
دا زمونگ اِلتجا ده
ترحیات سوات زیات کړے لهٔ دِے ⁕ ترحیات سوات زیات کړے لهٔ دِے
لهٔ دِے نهٔ یوپه سل گل گل ⁕ لهٔ دِے نهٔ یوپه سل گل گل
بادشاه مُ لـرے ⁕ بادشاه مُ لـرے
لرے دُنیا خوآباده ⁕ لرے دُنیا خوآباده
ربنا دا دُعا ده
دا زمونگ اِلتجا ده
وی اِمام قام تام دِخوشحال ⁕ وی اِمام قام تام دِخوشحال
خوشحال دِوی تل تل تل ⁕ خوشحال دِوی تل تل تل
کُل ثنا ربه ستا ده ⁕ کل ثنا ربه ستا ده
ربنا دا دُعا ده
دا زمونگ اِلتجا ده

Dr. Muhammad Ali Dinakhel

2020

ISBN 978-9936-645-80-6

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د علومو اکاډمي
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

د سوات پښتو ادب او ثقافت

ډاکټر محمد علي ديناخېل

۱۳۹۹ هـ ل

د دې اثر د پشتي او د ضميمو د تصويرونو لپاره د سواتنامه ويبپاڼې (www.pinterest.com ،www.swatnama.com)
او د ډاکټر سلطان روم او محمود خان صاحب مننه کوم!
ډاکټر محمد على ديناخېل

د کتاب ځانگړنې

د کتاب نوم: د سوات پښتو ادب او ثقافت
(د Ph.D تيزس)

ليکوال: ډاکټر محمد علي ديناخېل

ايډيټ او اهتمام: رفيع الله نيازی

خپرندوی: د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
(Academy of Scincess of Afghanistan)

د چاپ ځای: الهام نبي زاده، کابل - افغانستان

د چاپ کال: ۱۳۹۹هـ. ل. /۲۰۲۰ ز

د چاپ شمېر: ۵۰۰ ټوکه

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳٦-٦٤۵-۸۰-٦

بسم الله الرحمن الرحيم

د خپرندوی یادښت

«سوات» د پښتونخوا په شمال ختیځه څنډه کې پرته یوه ښکلې لرغونې او تاریخي سیمه ده او د ختیځ سویزرلېنډ بلل کېږي، چې د پېښور او مردان شمال ته د ملاکنډ له غاښي سره ګډه پوله جوړوي. که یې تاریخي شالید ته وګورو، نو لرغونتیا یې له میلاده څو پېړۍ وړاندې زمانو ته رسي. مقدوني سکندر چې له اوسني کونړ څخه د افغانانو د مقاومت او کلکې مقابلې په نتیجه کې په تېښته د چمرکنډ پر لار له پښتونخوا څخه هند ته روان شو، نو د ۳۲۷ق. م کال شاوخوا د یوروګوس (اوسنی پنجکوړې) له سیندګي پورې ووت، د کوز سوات درې ته ننوت او (اساګونا) یا سواتیانو پښتني قبیلې له سختې جګړې او مقابلې سره مخامخ شو، دې سیمې تر سکندر وروسته د کوشانیانو، ساسانیانو او بودایانو، په ځانګړې توګه د هندي راجاګانو د واکمنۍ د دورو بیلابېل یرغلونه او تاړاکونه هم ولیدل.

وایي د هندي راجاګانو وروستی واکمن(راجاګرا) د سوات د بګرام غره لمرخاته ته یوه ټینګه او کلکه کلا جوړه کړې وه، چې په هغه پسې سلطان محمود غزنوي هغه مهال چې هند ته د اسلام د سپېڅلي دین د خپراوي په موخه روانېده نورغازي پیرخوشاب په نوم یو پیاوړی پښتون سرلښکر یې له هندوانو څخه د سوات د نیولو لپاره ولېږه، هندي راجا یې کلابند او لویه سوبه د مسلمانانو په برخه شوه، هندوان وتښتېدل او پر ځای یې د پښتنو (دله زاک) قبیله مېشت شوه، چې بیا وروسته په نهمه هجري پېړۍ کې یوه بله پښتني قبیله (یوسفزي) د مغولي حکمرانانو د زور زیاتي له امله له افغانستان څخه دغې سیمې ته ور کډه شول، له دله زاکو پښتنو یې هغه ونیوله او پخپله پکې مېشت شول، چې تر ننه پکې اوسي. مغولي واکمن بابر چې پر هندوستان یرغل کاوه په سوات کې یې له ملک شاه منصور یوسفزي سره خپلوي وکړه او ددغه ځای د پښتنو لښکرو پر مټ یې په هندوستان کې د لودي پښتنو حکومت رانسکور او پخپله د واک پر ګدۍ کېناست. د انګرېزي ښکېلاک په زمانه کې، په ځانګړې توګه د ډیورنډ د تحمیلي کرښې له تېرېدو وروسته د انګرېزي یرغلګرو تر ولکې لاندې راغی، خو کور دننه خپلواکي یې لرله او پر دوو برخو د هند د لویې نیمې وچې له وېش وروسته هم تر ۱۹۶۹م کال پورې سیدعبدالجبار شاه، میا

عبدالودود او میاګل جهانزیب په ترتیب سره د سیمه ییز حکومت (سوات ریاست) واکمنان وو او بیا دغه حکومتولي په شمال مغربي صوبې(صوبه سرحد) کې مدغم او کور دننه خپلواک حیثیت یې ختم شو.

په هر صورت له دې پورته لنډو یادونو څخه دا څرګندېږي چې له ډېرو لرغونو زمانو د تاریخ د په بهیر کې د پښتونخوا دغه لرغونې ښکلې او سمسوره سیمه د خپل جغرافیوي موقعیت او سیاسي ستراتیژیک اهمیت له مخې د بېلابېلو دورو د مدنیتونو، تهذیبونو، ثقافتونو د راټولېدو او له دې ځایه د خپرېدو او په ټوله کې د علم، ادب او فرهنګ د روزنې، پالنې، ودې او پرمختیا ټاټوبی او مرکز پاتې شوی، نو ځکه د ډېرو لرغونو زمانو د آثارو نښې نښانې پکې اوس هم تر سترګو کېږي. ویلای شو چې د پښتونخوا سیاسي تاریخ او د پښتو ژبې او ادب عمومي تاریخ په دغه سیمه کې د رامنځته شویو ملي، سیاسي او ادبي ـ فرهنګي غورځنګونو د ویاړلو ملي او سیاسي مبارزو او ادبي ـ فرهنګي آثارو او افکارو له مطالعې او یادونې پرته نیمګړې ښکاري. تر کومه چې خبره په پښتو ژبه او ادب پورې اړه لري، د شیخ ملي دفتر، د خان کجو تاریخ، د اخون درویزه مخزن الاسلام او دده د نورو لارویانو او پلویانو ډېر منظوم او منثور آثار او د خوشحال خان خټک سواتنامه او له میانور سره یې ادبي او سیاسي مناظرې ټولې د پښتونخوا په دغه سمسورې او ښکلې سیمې (سوات) کې پنځېدلي او رامنځته شوي دي او پر دې ټولو سربېره د واکمنو حکومتونو په دربار او دفتر کې د پښتو ژبې او پښتنو په ادبي او سیاسي تاریخ کې لومړی ځل د رسمي کېدو او دفتري کېدو ویاړ هم په ټولې لویې پښتونخوا کې دغلته د سیمه ییز حکومت (سوات ریاست) په برخه شوی دی. د سوات دې ټول علمي ـ فرهنګي، تاریخي، سیاسي اهمیت او ارزښت ته په کتو د پښتونخوا ځوان پیاوړي لیکوال او څېړونکي ښاغلي محمدعلي دیناخیل په علامه اقبال اوپن یونیورسټي کې د لوړو زده کړو پر مهال د خپل پي ایچ ډي تیزس لپاره(د سوات پښتو ادب او ثقافت) موضوع د څېړنې لپاره خوښه کړې، د ښاغلي ډاکټر عبدالله جان عابد په لارښوونه یې په ۲۰۱۷م کال بشپړه او له یاد پوهنتون څخه یې پرې د Ph. D لوړ علمي سند ترلاسه کړی دی.

نوموړي خپله دغه څېړنیزه مقاله په دې لاندې ترتیب په اوو څپرکو(بابونو) کې بشپړه کړې ده:

په لومړي باب(پېژندګلو) کې د موضوع په اهمیت، مبرمیت، د څېړنې موخې او هدف، پوښتنو، د بابوبو وېش، څېړندود(مېتود) او ... پر ښودنې سربېره د تهذیب په لغوي اصطلاحي معنا، تمدن او تهذیب، ثقافت یا کلچر او د هغو تر مینځ د اړیکو په باب لنډې، خو جامع څرګندونې لري. دویم باب د شالید (پس منظر) مطالعه ده چې پکې پر هغو آثارو بحث او کره کتنه شوې چې د اړوندې موضوع په هکله د مخه خپاره شوي دي. درېیم باب د سوات لنډ تاریخ او د جغرافیوي ځرنګوالي پېژندنې ته ځانګړی شوی دی. څلورم باب د پښتنو په زمانه کې د سوات ادب او ثقافت (اول نه تر ۱۹۱۵م کال پورې) په سوات کې پښتو او پښتانه، د پښتو ادب په ودې او پرمختیا او دغلته په رامنځته شویو ادبي او تاریخي آثارو، ادبي غورځنګونو، پښتو پنځېدلي ولسي ادب، دودونو، عنعنو او نورو ډېرو اړوندو موضوعاتو هر اړخیز بحثونه لري.

پنځم باب ته «د سوات په ریاستي دور کې (۱۹۱۵- ۱۹۶۹م) پښتو ادب» سرلیک ورکړل شوی، چې پکې په دغه دوره کې د پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختیا بهیر، د پنځېدلي او رامنځته شوي نوي معاصر ادب، آثارو او افکارو په رڼا کې په تحلیلي بڼه څېړل شوی او د هغه وخت د ټولنیز نظم او نظام، دود، دستور پر ځرنګوالي هم بحثونه شوي دي. په شپږم باب کې چې د (سوات پښتو ادب او ثقافت د ریاست سوات ادغام او ټولنیز بدلون) نومېږي، د پښتونخوا په دغه تاریخي سیمه کې د سیاسي او ټولنیزو بدلونونو په رڼا کې د پښتو د اوسني ادب او فرهنګي بهیر د ودې او پرمختیا ځرنګوالی او څومره والی، د ادب او فرهنګ او همدارنګه د ټولنیز ژوند په بیلابېلو برخو کې د ترسره شویو څېړنیزو او تخلیقي علمي او عملي کارونو د بېلګو او مثالونو په ښودلو سره په ښه علمي، ادبي اکاډمیکه بڼه تشریح شوي دي. په اووم باب کې د ټولو بابونو لنډیز، نچوړ او نتیجه راغلې. په وړاندیزونو، سپارښتونو، ضمیمو او د اخځلیکونو په عمومي لیکلړ سره دغه څېړنه پای ته رسېدلې ده.

د ښاغلي ډاکټر محمد علي دیناخیل څېړنیز اثر(د سوات د پښتو ادب او ثقافت څېړنه) به نه یوازې دا چې د پښتو ژبې او ادبیاتو څېړونکو، استادانو او زده کړیالانو ته د خپلو لیکنو، څېړنو، زده کړو او ادبي مطالعاتو ترسره کولو لپاره ډېر ګټور مستند معلومات په واک کې ورکړي، بلکې په عام ډول به د سوات د تاریخ، فرهنګ، ثقافت او د خلکو د ټولنیز ژوند ژواک د پېژندنې او پرې پوهېدنې لپاره تاریخ لیکونکو، بشر پوهانو، ټولنپوهانو،

لرغونپوهانو، سیاستوالو او د پښتني کلتور او فولکور څېړونکو ته د یوې معتبرې باوري معلوماتي سرچینې په توګه په کار ورشي او د اړوندو موضوعاتو په برخه کې به د خپلو مطالعاتو او څېړنو لپاره به نوې سوژې او غوره لارې چارې هم ومومي.

همدې علمي، ادبي ـ فرهنګي ارزښت او اهمیت ته په کتو د افغانستان د علومو اکاډمي دغه څېړنیز اثر خپروي، نو یې د کتنې او سمون چارې د خپرونو د کمېسیون له خوا د علومو اکاډمي علمي منشي ښاغلي څېړنوال رفیع الله نیازي ته وسپارل شوې.

موږ له ښاغلي ډاکټر دیناخیل، چې دا اثر یې د چاپ لپاره زموږ په واک کې راکړ او له ښاغلي نیازي، چې دا اثر یې په وروستۍ کتنه او چاپ زیار خپرېږي، منندوی یوو، دواړو څېړونکو ته په علمي ـ فرهنګي چارو کې د لابریالیتوبونو او غوره خدمتونو هیله کوو.

په درنښت

څېړنپوه ډاکټر عبدالظاهر شکېب

د علومو اکاډمۍ رئیس

کابل، د تلې پنځه ویشتمه، ۱۳۹۹لمریز کال

لیکلړ

سرلیك **مخ**

خلورم باب

د پښتو په زمانه کې د سوات پښتو ادب او ثقافت

پينځم باب

په رياستي دور کې د سوات پښتو ادب اوثقافت

شپږم باب

د سوات پښتو ادب او ثقافت

اووم باب

په یویشتمه پېړۍ کې د سوات پښتو ادب او ثقافت

اتم باب

خلاصه

مننه

په ۲۰۱۷م کال کې ما ته د علامه اقبال اوپن یونیورسټۍ د پاکستاني ژبو له څانګې څخه د ډاکټرېټ ډګري راکړل شوه. زما د ډاکټرېټ د مقالې (تهیسېس) موضوع "د سوات د پښتو ادب تهذیبي او ثقافتي مطالعه : اول نه تر ۲۰۱۲ پورې" وه. زما دا کتاب هم زما د ډاکټرېټ په دغه مقاله مبني دی. په دې مقاله کې له لږ و ډېر بدلون وروسته د اختصار په خاطر ما د کتاب د نوم لپاره د مقالې هغه سرخط هم بدل کړ او کتاب ته مې نوم "د سوات ادب او ثقافت" غوره کړ. دا یو تحقیقي کار و، چې له ما سره پکې ځینو ادارو او افرادو مرسته کړې، نو لازم ګڼم چې د هغو ادارو او افرادو مننه وکړم.

زه له هائېر ایجوکېشن کمېشن څخه مننه کوم چې ماته یې زما د تحقیق په سلسله کې د جرمني د برلین هومبولډ پوهنتون ته د تللو لپاره سکالرشیپ راکړ. په جرمني کې په هومبولډ یونیورسټۍ کې د خپل استاذ پروفېسر لوټس ژهاک هم مننه کوم، چې هغه ما ته د یو وېزېټېنګ سکالر په حیث د هومبولډ یونیورسټۍ سنټرل ایشین سیمینار ته د راتګ دعوت راکړ او په دغه دوران کې یې زما د مقالې د ځینو حصو ډېره په غور مطالعه او اصلاح وکړه. د هائېر ایجوکېشن کمېشن یو ځل بیا هم مننه کوم چې ما ته یې د پي ایچ ډي په دوران کې د روسیې سېنټ پیټرزبرګ پوهنتون ته په یو بین المللي کانفرنس کې د خپلې مقالې د وړاندې کولو لپاره ټرېول ګرانټ منظور کړ.

د ښاغلي ډاکټر عبدالله جان عابد ډېر شکر ګزار یم، چې د هغوی په نګرانۍ کې ما دا مقاله سر ته ورسوله. د سوات د جهانزېب کالج د تاریخ څانګې پروفیسر ډاکټر سلطانِ روم صېب یو جهان مننه کوم چې زما مقاله یې د کره کتنې په غرض ولوستله او د تحقیق په موادو کې یې هم زما ډېره مرسته وکړه. له دې علاوه چې چا له ما سره د څېړنې په دې کار

کې څه نا څه مرسته کړې، د هغوی نومونه په ډېر درناوي او له ډېرې شکریې سره دلته لیکم، لکه: ډاکټر عطش دراني، ډاکټر عبدالواجد تبسم، ضیا بلوچ، ډاکټر حاکم علي برړو، ډاکټر نورالبصر امن، ډاکټر سید ظفرالله بخشالي، ډاکټر علي خېل دریاب، پروفیسر فضل سبحان (مټه کالج)، نورالبصر بصر، حنیف قیس، فضل ربي راهي، ابراهیم شبنم، نذیر احمد بشیري، ډاکټر شاه خالد شاهي او د سوات د جهانزېب کالج لائبریري اسسټنټ شاه وزیر خان خاکي. له شخصي کتابتونونو(لائبریریانو) علاوه چې له کومو کتابتونونو څخه ما استفاده کړې، هغه دا دي: سټېټ لائبریري برلن جرمني، هومبولډ یونیورسټي برلن لائبرېري، برټش لائبریري لندن، قائد اعظم یونیورسټي لائبریري اسلام اباد، ارکائیوز لائبریري پېښور، پښتو اکېډمۍ پېښور یونیورسټۍ لائبریري، پېښور یونیورسټي ایریا سټډي سنټر لائبریري، علامه اقبال اوپن یونیورسټۍ لائبریري، ګورنمنټ ډګري کالج لاهور لائبریري،ګورنمنټ پوسټ ګریجوېټ جهانزېب کالج سوات لائبریري،ګورنمنټ پوسټ ګریجوېټ کالج مټه سوات لائبریري، میونسپل کمیټي مینګوره لائبرېري، پبلک لائبرېري سوات او داسې نور. د دغو ټولو کتابتونونو له عملې د زړه له تله مننه کوم، په ځانګړې توګه د سوات د جهانزېب کالج د لائبریرین علي اکبر صاحب ډېره مننه کوم، چې زما لپاره یې د کتابتون دروازې هر وخت پرانستې ساتلې دي. د جهانزېب کالج د لائبرېرۍ د اسسټنټ خواجه سمیع الله عرف طوطا هم ډېره مننه کوم چې هر وخت یې په روڼ تندي مرسته کړې ده. د TARC(ټرایبل ایریاز ریسرچ سیل) ریکارډ کتلو کې د دغې ادارې یو چارواکي لیاقت علي راسره ډېر تعاون کړی دی. د سوات ریکارډ روم او د خوازه خېلې د تحصیل د ریکارډ عملې هم مرسته کړې، مننه ترې کوم. د لندن په برټش لائبرېرۍ کې راسره زما ملګري ډاکټر شاه خالد شاهي او پروفیسر جېمز کېرون مرسته کړې، د هغوی هم مننه کوم او د دې کتاب د ټایټل جوړولو لپاره زه د محمد مجتبی همایون صاحب هم مننداوی یم.

له یوې باوري علمي او څېړنیزې ادارې څخه کتاب خپرېدل ډېر لوی اعزاز وي، زه د افغانستان د علومو اکېډمۍ د رئیس ښاغلي ډاکټر عبدالظاهر شکیب او د دغې اکېډمۍ د نشراتي کمېشن له ټولو غړو مننه کوم چې زما د کتاب د چاپولو منظوري یې ورکړه. د څېړنوال رفیع الله نیازي هم ډېره مننه کوم چې د کمېشن له منظورۍ وروسته یې د کتاب د خپرولو اهتمام وکړ.

زه خپل مور او پلار ته لاس په نامه په ډېر احترام سره دعا کوم چې الله دې ورته له ښه صحت سره ډېر عمر ورکړي، د هغوی پالنې او روزنې زه د دې جوګه کړم چې زه نن د تعلیم یافته خلکو په شمار کې راځم. سره له دې چې زما مور او پلار دواړه بې تعلیمه دي، خو زه ورته اعلیٰ تعلیم یافته په دې وایم چې ماته یې د تعلیم موقعه راکړه، زما لوړې زدکړې زما د مورو‌پلار یو ارمان و او زه نن ډېر خوشحاله یم چې د هغوی په ژوندانه د هغوی دغه ارمان پوره شو، الله دې زما د مورو‌پلار سېوری همېشه زما پر سر لري. زما مشر ورور محمد عمر او زما کشر ورور خیال محمد هم زما بوج له ما سره واخسته او ما ته یې د مطالعې لپاره زیات وخت راکړ، الله دې یې تل خوشحاله لري. زه د خپلو خویندو او د کورنۍ د لویو وړو مننه کوم چې په څه نه څه شکل یې له ما سره مرسته کړې ده.

که زما د کوروداني یاسمین بي بي مینه او مرسته نه وای، نو زما پوره باور دی چې دا کار د کېدلو نه و، ځکه چې زما د علمي ژوند ډېرې سترې د هغې په مینه او مرسته کمې شوې دي، هر وخت یې زما د مطالعې لپاره یو پر سکون ماحول جوړ کړی او همدغه پر سکون او مینه ناک ماحول زه د دې جوګه کړم چې خپل کار مې سر ته ورساوه، د زړه له تله ترې مننه کوم.

ډاکټر محمد علي ديناخېل

پېښور پوهنتون

فروري ۲۰۲۰

alidinakhel@gmail.com

د کتاب خلاصه

(Abstract)

په تاریخي دستاویزاتو کې تر ټولو لومړی د سوات ذکر یوه یوناني تاریخپوه اریان (Arrian) کړی دی. سکندر اعظم په ۳۲۷ ق م کې سوات ته راغلی و. د چیني سیلانیانو له سفرنامو پته لګي چې دلته بدهـ مت ښه ترقي کړې وه او بیا وروسته هندومت د دې علاقې مذهب و. په یوولسمه پېړۍ(صدۍ)کې د محمود غزنوي لښکر د سوات زاړه اوسېدونکي (ګوجر او کوهستاني) د سوات غرونو ته په تېښته مجبوره کړل. د محمود غزنوي د لښکر له حملو سره دلته اسلام راغی او په همدغه وخت کې دلته په وړومبي ځل پښتانه راغلل. په شپاړسمه پېړۍ کې دلته یوسفزي پښتانه راغلل، له زړو سواتیانو څخه یې سوات قبضه کړ او قبایلي ژوند یې تېرولو. د یوسفزو له راتګ سره په سوات کې د پښتو ادب په نظر راځي. په۱۹۱۵م کال کې په سوات کې د یو منظم ریاست بنیاد کېښودل شو. د دې ریاست سرکاري ژبه اول فارسي وه او د ۱۹۳۷م په جون کې پښتو د دې ریاست سرکاري او دفتري ژبه وګرځول شوه. د پښتو ادب کتابونه به د ریاست په پېسو چاپېدل او خلکو ته به یې مفت ورکول. دلته به په "جهانزېبي مشاعرو" کې د پښتونخوا شاعرانو برخه اخسته او دا مشاعرې به په کتابي صورت کې چاپېدلې. په ۱۹٦۹م کال کې دا ریاست په پاکستان کې ضم کړی شو، په پاکستان کې د ریاست سوات له ضم کولو وروسته دلته یوه ائیني او انتظامي خلا جوړه شوه چې د هغې او څه نورو عواملو له کبله دلته ډېرې مسئلې او تحریکونه پېدا شول او هر قسمه خلکو ته د اړي ګړي موقعه په لاس ورغله. د پښتنو له راتګ وروسته که په دې تناظر کې مونږ وګورو نو د سوات په تاریخ کې مختلف دورونه په نظر راځي، لکه له ریاست وړاندې د پښتو دور، د ریاست دور، له پاکستان سره له ضم کېدو وروسته دور او بیا د یوویشتمې پېړۍ د اړي ګړي دور او نور.

د سوات د تاریخ په دې ټولو دورونو کې په سوات کې پښتو ادب ښه ترقي کړې او د هر دور د ادب له مطالعې څخه د هغه دور د تهذیبي او ثقافتي ځانګړتیاوو او د ټولنیزو (سماجي) بدلونونو پته تر ډېره حده لګي. د سوات د تاریخ په دې مختلفو دورونو کې چې کوم ټولنیز(سماجي)، تهذیبي او ثقافتي بدلونونه راغلي، د هغې اندازه هم د سوات له پښتو ادب څخه لګي، چې په دې کتابکې پرې په تفصیل سره بحث شوی دی.